کابل ناتهـ    شماره‌ء پنجاه و نهم،    سال سوم    میزان/عقرب ۱۳۸۶ خورشیدی    اکتوبر ۲۰۰۷ میلادی



هدایت الله هدایت

# که دا نړۍ یو کلی وای

## داکتوبر ۱۷مه د فقراو لوږي د امحاء دنړۍ والي ورځي د یادوني په بانه



د ۱۹۹۳ م کال راهیسي د اکتوبر ۱۷ مه نېټه هر کال د فقر یا لوږې د امحاء د نړۍ والي ورځې په نامه لمانځل کیږي. د غه ورځ د نوموړي کال د مارچ پر ۱۳ مه نېټه د ملګرو ملتو د سازمان د عمومي غونډې د پریکړې پر اساس د فقر د امحاء د نړۍ والي ورځې په نامه و نومول سوه او ټوله نړۍ ئې و دې ته را وبلله چې د دغه بشري غمیزې په ایسته کېدو کې پراخ او عملي ګامونه واخلي.
ما د غه لیکنه او شننه په ځانګړې توګه را شروع کړې او پوره لا نه وه خو څرنګه چې د خوړو، فقر او لوږې د موضوع سره ئې نیژدې تړاو درلود نو په متن کې مې یو څه بدلون را ووست او د همدې نړۍ والي ورځې د یادونې په بانه مې دلته و خپرېدو ته وړاندې کړه.
ه. هدایت

کله کله ځیني شیان د دې د پاره چې ښه وا یسي او ژر درک سي نو د غټ ښودلو د پاره یې داسي شیوه په کار لویږي تر څو ځوک ئې د سترګو په رپ کې په مطلب و پوهیږي . خو ځیني شیان بیا دومره غټ وي چې اصلاً په سترګو کې نه ځایږي او حتی تصور یې هم مشکل وي. داسي شیان بیا لومړۍ په عکس کې کوچني ښودل کیږي تر څود سم لیدلو د پاره یې لاره هواره او د تصویر ټولي خواوي و هر چاته هماغسي چې دي، ښکاره سي.

نن که نړۍ په یوه کلي باندي نومول کیږي او که د جهاني کېدو و خواته بیا د لویو قدرتو او پیسه داره هیوادو تلاښونه او غزېدنه دامریکا په سرغنه توب سره تر سره کیږي، نو دې لوري ته دنړۍ په مطبوعاتو کې چې هغه بیا د یوه سره د همدې هیوادو په ولکه کې راغلي دي د پام وړ ځای ورکول سوی او په ډله ائیزه رسنیو کې خورا پراخ انعکاس پیدا کوي. دغه هیواد ونه ددغي پروسې بهیر یعني و نړۍ کلي ته ننوتل دبېلابېلو لارو او په بېلابېلو نومونو په کارولو سره ځان رامخته کوي او د خلکو په ذهنیتو کې خپل ځان ځایوي او تأمل ته یې را بولي. دغه پروسه کله د ټروریزم سره د مبارزې په نامه، کله د ډیموکراسۍ د خپرېدو په نامه، کله د ډله ایزي وژنو د وسلو د جوړېدو او ځای پر ځای کېدو په نامه او کله بیا د همدې ډله ایزو وژنو وسلو د امحأ او له مینځه تلو په نامه، کله د خپلواکۍ د ترلاسه کېدو په نامه ، او کله بیا د خپلواکۍ د ځپلو په نامه ،کله د بشر دحقوقو ددفاع او اعادې په نامه او کله بیا د دغه تر پښو لاندي کېدو په نامه، کله د اسلام څخه ددفاع په نامه او کله بیا پخپله اسلام د یوې خطرې او د ټروریستې تهدید په نامه ، خلاصه د هر هغه څه په نامه چې ولسونه ورباندي خطاوزي او دنړۍ د هیوادونو د شتمنیو کنټرول تر خپل لاس لاندي را وستلای سي نو بس په همدغه مفاهیمو کې ځان را ښکېلو ي او پر هیوادو باندي ور دانګي او ناروا جګړو ته لمن وهي. کله ځان جهاني کړي او کله ئې پر کلي باندي را واړوي. دا په دې خاطر هم ده چې ددغو مفاهیمو په کارولو سره د نړۍ په هیوادو کې لاسوهنو ته په خلاص لاس سره لاره خلاصوي او هم داشاني لاسوهنو او یرغلونو ته قانوني بڼه ورکوي او وروسته بیا د ځان په ګټه هماغسي چې غواړي هغه کاروي. په دې ډول دغه شتمن هیوادونه غواړي د جهاني کېدو پروسه د نورو هیوادو پر هست و بود او تر مځکي لاندي او د مځکي پر سر شتمنیو

باندي د خپلي  قبضې  د ټينګېدو په يوه عرصه باندي تبديله  او په دې هيوادو کې د ډېرو نورو شيانو سنه هم د ځان په ګټه ور ختمه کړي.

ددغه جريان و فروعاتو ته چې څوک ځان ننه باسي  او هغه چې بيا لا نور هم را سپړي، نو ډېر داسې څه او زياتي نوري پوښتني هم راپورته کيږي. ودې پوښتنو ته د ښه ځواب ورکولو لپاره  نن ددغه کمپاين رياليستې څېړونکې هم وهغه  ته يعني د جهاني کېدو وهمدغه روان بهير ته د  نړۍ وال کلى نوم ورکوي او داځکه چې دغه څېړونکي ددې کلي هغه انځ او بوړۍ ټوله  را باسي ترڅو  و هر چا ته ئې وښئي چې دا جهاني کېدل به په دې کلی کې  څرنګه يوه نړۍ  وي او په دې کلي  کې به چې انسان ئې په مرکز کې قرار لري نو ددغه  انسان راتلونکې به  څه شاني وي. د خوړو، ژبو، دين او مذهب، د کلتور او ټولنيز عدالت بنيادونه به ئې څه شاني د انسان په ګټه شکل نيسي. خلاصه څېړونکې ددې مفهوم ټولي خواووي څېړي تر څوهغه بنيادي ټکي  چې ددې پروسې اوسني حاکم سرغنه پر هغه باندي تله تيره وي او  يا  د هغه  دپټېدو تلاښ کوي، هغه روښانه او د هرچا ومخې ته يې کښېږدي.

بلې ! زموږ دغه اوسنۍ ارته نړۍ چې دم درحاله ئې د شپږو ميلياردو نه زيات انسانان او  بني ادمان  په خپله غېږ کې  را  نيولي دي، د هغوی په مابين کې اوس داړيکو تناوونه داسې لنډسوي يا سره شلېدلي دي چې هر څوک د بشري هڅو او دتکنالوژۍ د پرمختياوو دبرکته د سترګو په رپ کې ځانونه يوه اوبل ته رسوي او هرڅه ديوه ځايه وبل ځای ته د نورو سره شريکوي. نو راسۍ چې موږ هم همد اسې اټکل وکړو لکه نن سبا چې هغه په ډېرو نورو خبرو ، ليکنو او رسنيو کې کارول کيږي ياني  نړۍ وال کلی يا  Global Village .  که موږ هم لکه ډېر نور دغه دمځکې کره د د جهاني کېدو د پروسې د تحقق په خاطر د يوه کلي په نامه  و بولو او ددې نړۍ دواقعيتونو د يوه اړخ دښه ترهالېدلو د پاره  هغه په رشتيا هم و يوه کلي ته را کوچنۍ کړو نو دا به څه ډول کلی وي او په دې کلي کې به دانسانانو ژوند  څه شاني تيريږي؟

په دغه انساني کلي کې که موږ  دټولو مېشته سکنه وو اټکل سل تنه انسانان و ګڼو ، يعنی که دغه شپږ ميلياردو د ټولي مځکې نفوس  سل تنه وګڼو، نو راسی  فکر وکړو چې د دغو سلو تنو د ژوندانه عادي بهير به په دې کلي کې څه شاني وي ؟ دغه سل تنه به په څو ژبو خبري کوي ، څه به خوري او څه به کوي او راتلونکې به ئې څرنګه وي؟

### په نړۍ وال کلي کې ژبې

ويل کيږي چې په نړۍ کې د شپږو زرو نه زياتي ژبې سته چې ولسونه وربانديخبري اتري کوي. دغه ژبې دولسونو روح  ګڼل کيږي اودهغوی تاريخ او فرهنګي ګډه ميراث ئې بيانوي . کله چې د يوې ټولني دفرهنګي ودې د ساتني او پالني خبره رامينځته کيږي، نو دا ژبه ده چې  ديوه اساسي عامل په توګه مطرح کيږي او داځکه چې په واقعيت کې دا ژبه ده چې تېرسوی او اوسنی فرهنګونه  سره پېيې  او راتلونکې نسلو ته ئې وړاندي کوي . په دغه دريو تيرو ورستيو پېړيو کې د ژبو د امحاء روند په

اند ښنمنه توګه مخ پر زیاتېدو وو. دا خبره ان دې ځای ته را ورسېدله چې بشر د میاشتي دوې ژبې د لاسه ورکولې. دغه جریان زیاتره د امریکا او استرالیا د هیوادو سیمې متأثره کړې وې. ویل کیږي چې همدا نن هم څه ناڅه درې زره ژبې په جدي توګه د نابودۍ د ګواښ سره مخاخ دي.

د ژبو د دغه تنوع سره سره، د ارقامو څخه معلومیږي چې که دا نړۍ یو کلی وای نو په دې نړۍ وال کلي کې به د نفوسو د تناسب پر اساس یا د همدې سل کسیزه استوګنو په حساب به د نیمایی نه زیات کسان به په اتو عمده ژبو خبرې کوي. خو دا اندښنه پر خپل ځای پاتې کیږي چې ددې نورو په سلهاوو پاتي ژبو پای به په دې نړۍ وال کلي کې چې امریکا یې میلیاردران ئې د واکدارۍ او پرهغه باندې د فرعونیت خیال لري څرنګه خوندي کیږي او څه ډول چلند به ورسره کیږي؟

هوکې، که دا نړۍ یو سل کسیزه کلی و ګڼو نو په هغه کې به اته عمده ژبې جاري وي او د کلي تر نیمایي زیات خلک به ورباندې رږغیږي. په لومړي کتار کې به ددې سلو تنو د جملې نه ۲۲ تنه به ئې په چینیایی ژبه خبرې کوي. دغه نه را وروسته به په دې سلو تنو کې به یوازې۹ نفره انګرېزي ژبې خلک وي. په هغه کې به بیا اته نفره هندي او۷ نفره به یې هم په هسپانوي ژبه خبرې کوي. ددې سلو تنو څخه به۴ نفره په عربي ژبه رږغیږي او جالبه لا دا چې په همدې تعداد یعني۴ تنه به ئې په بنګالي ژبه یو دبل سره اختلاط کوي. په همدې ردیف کې به ۳ نفره په پرتګالي ژبه او ۳ نفره به ئې هم په روسي ژبه رږغیږي.

کله چې په دې کلي کې څوک د چا سره روغبړ او سلام علیک کوی نو هرو مرو یې باید لږ تر لږه د نیمي نړۍ یا ددې کلي د نیمو زیاتو اوسېدونکو اته ژبې ئې باید زده وي تر څو د جهاني کېدو و نیمایی ته ځان ورسوی کنه نو د ژبو په دې د برترۍ او کهترۍ په بازار کې به ضرور خبره ځیني خراپیږي!

## په نړۍ وال کلي کې دین او مذهب

په همدې ډول که څوک خپلې سترګې وتړي او دغه ارته شپږ میلیارډي نړۍ یو ځل بیا په دغه کوچني ګلوبل کلي کې را غونډه کړي او هماغه سل تنه اوسېدونکې ئې په نظر کې ولري، وروسته بیا په خپله خوښه هې خوا دې خوا په درو او په شېلو کې راشوه سي اوپه لارو اواوبو کې ځان را کښېباسي او د کلي خواته را مخه کړي نو د لارې په اوږدو کې به د کلي په یوه کنج کې دکلیساوو زنګونه واوري، وروسته به بیا په معبدو کې د پټک پر مخ د وهلو ږغونه تر غوږو سي، بل ځای به د مسجدو د منارو څخه محمدي آذانونه را پورته کیږي او هغه وخت به نو داسې فکر کوي چې اوس نو په رشتیا هم و کلی ته را رسېدلی دی.

د پورتنۍ محاسبې او د نفوسو د اوسني کمیت پر اساس په دغه سل کسیزه کلی کې به عملاً درې عمده دینونه یعنې مسیحیت، اسلام او هندو به د ډېرکیو مسلطو دینونو په کتار کې ځای ولري. په بل عبارت ددې کلي ۳۲ تنه به مسیحیان وي، ۱۹ تنه به یې مسلمانان او۱۳ تنه به یې هندوان وي. د پاتي

کسانو د جملې نه به۶ نفره به په بودايي مذهب عقيده و لري ا و نور دوه نفره به يې په نورو دينو لکه شينتو* ، سيکهه يا مرتاض او يو تن به ئې هم يهودي وي. خو په دې کلي کې د هغو کسانو شمېره چې په کوډو او جادو باندي عقيده لري هم کم نه وی. کيداى سي وويل سي چې څلورم عمده مذهب به هم همدغه د جادوګرانو او کوډګرانو مذهب وي. د کلی احصائيه پېژندونکي وايی چې ددې کلي ۱۲ تنه د بشري تمدن د لومړني دوران د زاړه مذهب د معتقدينو څخه چې د روح په عالم کې ګرځېدله او په کوډو او جادو يې ايمان لاره اوس همورباندي عقيده لري . هغوی اوس هم کوډې د ژوند دسمبالتيا او د هر رازي مشکلاتو او يا دخپلورو او ناروا غوښتنوو تحقق ته يوازنی د حل لاره بولي . خو پنځم مذهب بيا د لامذهبانو مذهب دی ! يعني د کلي پاتي۱۵ تنه به اصلاً بې دينه او لا مذهبه وي . هغوی په هيڅ دين او مذهب باورنلري.

په دې نړۍ کې و بخښئ په دې سل نفري کلي کې به د دينو او عقيدو تنوع او دهغوی په مابين کې چې دغه اوسنۍ تاو تريخوالی څوک ويني نو يو دبل د زغملو روحيه، دوروری او اخوت ددوام مسئله به دا پوښتنه بې اختياره را پورته کوي چې ددې دينو د پيروانو د خپل مينځي اړيکو راتلونکې او پخپلو کې د ګډ ژوند پرنسيپونه به په داسي حال کې چې د جورج ډبليو بوش غوندي انسانان د پيغمبرۍ دعوه هم کوي نو هغه به څه ډول سره شاربل کيږي ؟!

## په نړۍ وال کلي کې فقر ، لوږه او خواره

په دې نړۍ وال کلي کې د فقر اولوږي مسئله د پورتنيو مسئلو په مقايسه د نن او سبا ډېره جدي ستونزه او د مرګ او ژوند يوه حياتي مسئله ده. څرګنده ده انسانان د خپل ژوند د پايښت او خوندي کېدو لپاره تر هر څه دمخه و غذا ته اړتيا لري او بايد غذا و خوري. خو په نړۍ يا دغه کلي کې د غذا څخه د نيمايي زياتو اوسېدونکو محروميت او د لوږي معضله دهغوی ژوند تر سخت ګواښ او تهديد لاندي را وستی دئ.



نن ددريمي نړۍ په هېوادو کې د فقر او لوږي ستونزه هومره ريښنه غزولېده چې د ورځي دېرش زره انسانان د مرګ و کندي ته راکشوي.

راځی چې وګورو دا فقر څه شی دی او ولې د انسانانو لمن نه ایله کوي؟آیا دلته د غذا کمي ده او که بله موجبه سته چې انسانان وږي دي ؟

په دې نړۍ یا په دغه ګلوبل کلي کې د ټولنیز ناعادلانه سیسټم ددوام په وجه فقر تل خپله شومه بڼه ساتلې او په هر وخت کې ئې ځان ښکاره کړی دی خو د سرمایه دارۍ په اوسني دغه په اصطلاح متمدن پړاو کې و خپل اوج ته رسېدلې ده. فقر دغذا څخه محرومیت دی وهغه ته نه رسېدنه او لوږه ده، فقر بې کوري ده، فقر په ناروغي کې د علاج بېوسي ده، بې کاري ده، فقر دتعلیم او تربیې څخه بې برخي ده، دراتلونکې څخه بېره ده، فقر دلوږې په خاطر دخپل اولاد د مرګ نندار ده،بې آبي ده، فقر بې چاره ګي ده، فقر د خپلواکۍ او آزادۍ نه کامل محرومیت او واقعي غلامي ده. پر انسانانو باندي چې لوږه تحمیل سي نو هر څه ته لاس اچوي ، فقرنا امني ده او د ډېرو زیاتو نورو ټولنیزو پرابلمونو زېږنده ده .

فقر ډېرې څهرې لري او هر ځای خپل رنګ بدلوي خو په زیاتره حالاتو کې هغه داسې حالت دی چې خلک غواړي دهغه څخه وتښتي.اوس ډېر په دې باور دي چې فقر او لوږه داسې پدیده نده چې ګنې د بشر اذلي نصیب دي وي ، بلکه دا د حریصو انسانانو په لاس جوړه سوې غمیزه او داوسني غیر عادلانه ټولنیز سیسټم یوه بد شکله پابله ده چې دهمدې پدیدې په دوام سره یې پر نړۍ باندي داسې ناوړه سایه غوړولې ده. فقر زموږ د متمدني نړۍ پر وجدان باندي یو تور داغ دی ، دنړۍ شتمن هیوادونه چې دفقر د غزېدو په بیه لا نور هم شتمن کیږي نو وجداناً هغوی وبشري ټولني ته مسؤله او ګرم دي . نن چې داسي تلاښونه کیږي ترڅو دغه موجوده نړۍ واله سیسټم جهاني کړي او د هغه څخه ګلوبل کلی جوړ کړي نو که په هغه کې د ټولنیز عدالت د موازینو په چوکاټ کې د انسان د ښېرازې په خاطر د لوږې، فقر، بیکارۍ او بېوزلی د پای پاکه امحاء د پاره بنسټیز اوعادلانه ګامونه پورته نسي نو دابه بې له شکه په دې نړۍ وال کلي کې دفقر او بې عدالتۍ دجهاني کېدلو مانا ولري .

د غربي تمدن په دغه روان د سرمایه دارۍ په دوران کې ، هر کال په ټوله نړۍ کې په میلیونونو انسانان د هغه څه د کمبود په خاطر له مینځه ځي چې په نورو شتمنو هېوادونو کې د اضافي موادو په څیر ایسته غورځول کیږي. په همدې نړۍ کې د یو میلیارډو په شاو خوا کې انسانان دورځي د یوه ډالر نه کم او درې میلیارډه یې په درو ډالرو خپله ورځ سبا کوي. د یو میلیارډ نه زیات کسان دڅښاک د صحي اوبو څخه محرومه او څه ناڅه دوه نیم میلیارډه انسانان دصحي او طبي امکاناتو څخه بې برخي دي. دغه ارقام د هر کال په تېرېدو سر زیاتیږي .هرکال ۵ میلیونه ماشومان د لوږې نه مري او نور ۱۲ میلیونه د ژوند د لومړنیو اړتیاو د لاسته راوړلو په خاطر خپل ځانونه خرڅوي. فقر په هر کال کې سل میلیونه ماشومان دزده کړې و پرېښودلو ته اړباسي. د ملګرو ملتونو د ګزارش پر اساس همدا اوس په نړۍ کې درې لکه ماشومان د لوږې په خاطر د سرتیرو په څیر د دېرشو نه په زیاتو جګړو کې برخه لري. د

هغوی نه د خپل ماشومتوب سپېڅلتیا غلا سوې او دې ته اړ سوي دي چې د فقر او لوږې په خاطر خپله ځلانده راتلونکې د خپل ژوند په بیه دداسي جګړو سره و موښلوي چې پخپله ئې په ماهیت نه پوهیږي. نن په زیاتره جګړو کې سر تیري په دې نه پوهیږي چې د څه د پاره جنګیږي ،هغوی بس د اجیرانو په څېر د پیسو په مقابل کې ځانونه ګماري او و هر څه ته تن ورکوي تر څو د لوږې څخه ځان وژغوري .دغه بربنډه او نور ډېرو زورونکي ارقامو ته پاملرنه زموږ د دوران یو تریخ واقعیت څرګندوي او د اوسنۍ نړۍ یوه ټولنیزه غمیزه او د درمندو ټولنیوه لویه تراژیدي ده.

آیا په دې نړۍ یا کلي کې خواړه نسته چې دغه فقر اولوږه د انسان په برخه سوې ده او که بله موجبه هم لري ؟ کله چې څوک ددې کلي و بازار ته د



نیژدې څخه ګوري نو په هغه کې خو ډېره ګڼه ګوڼه لیدل کیږي . دلته خوډول ډول خواړه سته او د هر رازي موادو پریماني ده ، غله دانه او د کرهنې نور حاصلات هم پرېمانه دي . ددې کلي خلکو خو په خپل ګډ کار او زیار سره چې څومره یې په وسه وه نو هر ډول حیوانان یې روزلي دي د څړ ځایونه او کروندې لري . رنګارنګه محصولاتو ته یې وده ورکړېده، هرڅه سته او پرېمانه پرېماني ده. پو هېږی په دې سل کسیزه کلی کې ۳۱ دانې پسونه سته، ۲۳دانې غوایان ګرځي، ۱۵خوګان تا و بالا کیږي، ۳ اوښان، ۲ آسه او ۱۹۰ دانې چرګې او چرګان هې خوا دې خوا ته ګرځي را ګرځي !غله دانه او د کرهني حاصل هرڅه پکښې پیدا کیږي . هوکی په دې کلي کې دټولي مځکې مښشته شپږ میلیارډه انسانانو لپاره و بخښی ددې سل کسیزه ټول کلی د اوسېدونکو لپاره پرېماني ده او څه ناڅه د اوسېدونکو د شمېر نه حتی یوازي دوه ځله زیات چرګان سته !

نو کله چې خبره داسي وي او دلته په دې کلي کې د خوړو هیڅ ډول کمي نه بلکه پرېماني لاهم موجوده وي نو دالوږه ولي سته ؟ دغه ټوله د خدای تعالی نعمتونه ولي تر خلکو نه رسیږي ؟ دغه نعمتونه که په عادلانه توګه ددې کلي وخلکو ته توذیع سي ، انساني حرص ځیني ایسته سي هغوی ته د کار زمینه برابره او د خپل کار او زحمت په مقابل کې په عادلانه توګه حق و حقدار ته ور سیږي ، نو فقر او لوږه خو باید اصلاً وي نه ؟ نو داسي ولي نه کیږي ؟

ښائې دلته ددې ستونزې عمده وجه په همدغه واقعيت کې پروت وي. دلته دغه څه چې ولې لوږه سته، ولې فقر سته، ولې جګړه سته، ولې غلا او جنايت سته، ولې بې سوادي سته ،ولې بېکاري سته ولې امن له مينځه تللی دی ولې نړۍ وال مارکيټ د هيروينو او وسلو د قاچاقبرانو په ولکه کې راغلی دی ولې په دې نړۍ کې داسي لګه درګه ده او داسي ډېر نور څه سته دا ځکه چې په دغه نړۍ واله کلي کې ټولنيز عدالت نسته، عادلانه د کار او تقسيم شېوه نسته. په خپله عدل نسته. د ګټې او د پيسو دلاسته راوړلو لپاره يو څوک هر روا او نارواڅه کولای سي . په نتيجه کې ددې کلي د سلو تنو څخه پنځوس تنه سم خواړه نلري، دوا نلري او هميشه وږي ساتل کيږي ، د هستوګني ځای نلري ، د تعليم او زده کړې نه محرومه او بېکاره دي. شل تنه يې دخوړو د کمبود په وجه د نس او په نورو زياتو ناجوړيو اخته دي. ددې کلي يا د ټولي نړۍ يوازي ۳۰ تنو ته پوره غذا رسيږي او دژوند د نورو ښېګڼو نه هم برخمن دي. په واقعيت کې ددې کلي د جهاني کېډو بازار يوازي ددېرشو تنو په خدمت کې راغلی دئ. همدغه دېرش تنه او دهغوی سرغنه دي چې دټول کلي پر شتمنيو او نعمتو باندي ئې خېټه اچولې او د تکنالوجۍ ټول هغه دستاوردونه چې بشر د پېړيو پېړيو زحمتو په نتيجه کې و اوسني تکامل ته را را رسولی دی نو هغه ئې هم په خپله انحصار کې راوستي او د ځان په ګټه ئې کارولي دي. دانور اويا تنه وږي دي ، اوپه نس نه دي ماړه . ان د خپل بشري حقونو څخه هم ليري ساتل کيږي. دغه دېرش تنه چې هر څه هم خوري او نور هر څه ئې هم په ولکه کې دي ، نو هغوی دا کار د ځان ګناه نه ګڼي دا ځکه چې د همدې د ټولنيز سيستم اداري ساغری همداسي راغلی دی ، همدغه نړۍ وال سيستم او دهغوی نړۍ وال حاميان هغوی ته دا حق ورکړی دی چې همداسي وکړي د هغوی څخه دفاع هم کوي. ان لکه زموږ د وطن جنګسالاران چې زموږ ولس هغوی ته قاچاقبران او په جنايتونو کې ښکېل بدنامه د عامه وژنو مجرمان وائې ، هغه چې چې نن په ښيښه ای بنګلو کې اوسي او بانکونه ئې په ډالرو ډک کړي دي. دغه سيستم هغوی ساتي او ان په وسلوئې لا نور هم سمبالوي. پرون ئې هم سمبالول دا ځکه چې هغوی د همداسي مزدورو اشخاصو په وسيله په هيوادو کې د خپلو لاسوهنو زمينه برابره وي، فقر او لوږه ډېروي او و راتلونکو کورنيو او سيمه ايزه لانجو ته لا نوره هم لاري خلاصوي .

په دې توګه ددې کلي و دېرشو تنو ته چې ددې کلي د ټولي هستۍ د غضبولو لپاره ټول امکانات په کار لوېدلي دي نو د هغه دساتلو او دوام لپاره يې خبره و جګړو ، شيطنت، تيريو او ووسله واله مسابقو ته هم را ايستلېده پر ملتو او هيوادو باندي ئې ناروا جګړې تحميل کړي دي. په دې ګلوبل کلي د وسلو په دې نړۍ واله مسابقه کې يوازي د امريکا پوځي پانګه و شپږ زرو ميلياردو ډالرو ته رسيږي. دا په داسي حالت کې محاسبه کيږي چې د ټولي نړۍ د پو ځي لګښت اندازه اوس اته سوه زره ميلياردو ډالرو ته ځان رسولی دی . دغه رقم ته ښه سوچ وکړۍ، اته سوه زره ميلياردو ډالره ! دغه پيسې زياتره دوسلو جوړولو فابرېکو د لويو خاوندانو او سهم لرونکو و حسابو ته شوه کيږي. نو که موږ ددې نړۍ وال کلي څخه بيرته و دې ښکلي او ارتي نړۍ ته را ووزو او ددې نړۍ د شپږ ميلياردو اوسېدونکو و ژوند ته ځير سو ، يوازي

ددغه پوځي لګښت د پیسو څخه د سړي پر سر ۱۳۳زره ډالره و هر یوه ته رسیږي ، په دې پیسو سره کېدای سي یو څوک د خپل ژوند هره خوا سمباله او هره ویجاړه ئې آباده کړي. البته دا یوازي د پوځي لګښت د ونډې برخه ده ها نور ملي عاید او خپل دلاس د خواریو ګټه خو ئې لا پر خپل ځای پربږدی !

هغه تازه ارقام چې خپاره سوي دي ښيئ چې امریکا ته د عراق د اشغال مصرف د هفتې درې ملیارډه ډالره او د کاله څه ناڅه ۱۶۰ میلیارډه ډالره تمامیږي ، ددې سره که دافغانستان د جګړې لګښت هم یو ځای سي نو سرئې د هفتې څلورو ملیارډه ډالرو ته رسیږي.



هغه رقم چې په دې نیژدو وختو کې د المان دږغ سایټ د واشنګټن پوست د ورځپاڼې په حواله خپور کړی دی ان پخپله د امریکایانو لپاره لا زیات هېښنده اوحیرانوونکي دی. ددې رقم پر اساس که د عراق د جګړې جانبي مصرف سره لکه د ټېپیانو ددرملي خرچه او نور هم یو ځای سي نو امریکا ته یوازي دعراق دجګړې مصرف د ورځي ۷۲۰ میلیونه ډالره تمامیږي. دغه رقم ته که په دقت سره وکتل سي نو په بل حساب په هره دقیقه کې پنځه لکه ډالره مصرف کیږي . دلته دا پوښتنه پیدا کیږي چې دا څرنګه بشر دوستي ، ډیموکراسي او د بشري حقوقو درناوی دی چې په نړۍ کې د ورځي دبرش زره تنه د لوږې مري خو دغه دبشر دوستان د پردیو وطنو د په لاندي کولو او جګړو کې دورځي۷۲۰ میلیونه ډالره مصرفوي؟ !
د دې نه علاوه د امریکا دولتي اداره دکاله تر ۴۰۰ میلیارډه ډالرو زیاته د پوځي وسلو په لګښت باندي لګوي . نړۍ والي ټولني اټکل کړی دئ چې یوازي په دغو پیسو سره کېدای سي چې و ټولي نړۍ ته د څښاک اوبه سر رښته سي، کېدای سي د ټولي نړۍ و ماشومانو ته غذا ، د تل لپاره د تعلیم او تربیې امکانات برابر سي، صحي آسانتیاوي، شفاخانې، کورونه او نور ډېر اړین څه ورته آماده سي. دا چې دا کار نه کیږي نو پخپله ډېري پوښتني او اندېښنې را پورته کوي، او ډېر درواغ او رشتیا هم و میدان ته را باسي.

## د راتلونکې څخه بېره

ویل کیږي چي تر ۲۰۵۰میلادي کاله پوري به د نړۍ د نفوسو شمېره د نن په پرتله دوه برابره زیاته سي .
ددي کسانو د جملې څخه به په سلو کې ۹۷ په اصطلاح زمونږ د ګران هیواد افغانستان په ګډون د دریمي نړۍ په هیوادوکي چي همدا وروسته پاتي یا لږ پر مختللي هیوادونه بلل کیږي وزیږي کوم چي د همدا اوسه څخه لا د لوږي او خوړو د کمبود او نه رسېدو د مشکل سره لاس او ګرېوان دي . د دې هیوادو انسانان د راتلونکې څخه جدي بېره لري.



د نړۍ وال غذایي سازمان داسي براورد کوي چي همداګړی ۸۵۰ میلیونه انسانان د خوړو دپاره کافي غذا نلري او په دې حساب د کلي شل تنه یې دخوړو د کمبود په وجه د نس او په نورو زیاتو ناجوړیو اخته دي او دوا نلري. ددې کلي یا د ټولي نړۍ یوازي په سلو کې۳۰ تنو ته پوره غذا رسیږي او هغه چي دهغوی څخه اضافه پاتي کیږي نو هغه هم بیا ایسته غورځول کیږي. د یوه څپاره سوي رقم په حواله د هغه رنګارنګه خوړو مقدار چي امریکا یې هر کال د امریکائي مصرف کونکو په واک کې ایږدي ۱۲۰ میلیارډه کیلو مواد کیږي. ددغه مقدار څخه ۴۵ میلیارډه کیلو چي سبزي، تازه مېوې، شیدې، غوښې او غله دانه پکښې شامله ده د خوراکي موادو د پلورونکو ، د رستورانو د خاوندانو او یا پخپله د
مصرف کونکو لخوا ایسته غورځول کیږي . دغه مقدار غذا کولای سي چي په افریقایي هیوادو کې د ۳۰۰ میلیونو تنو و ژوند ته چي د مطلقي لوږي سره مخامخ دي نجات ورکړي او دغه توره قاره د لوږې د وبا څخه بچ کړي . خو دا کار نه کیږي. دغه ثروت چي همدا نن اروپا او امریکا لاسته را وړي او څانته یې کوټه کړیدي نودا خو د هغوی د استعماري سیاست په نتیجه کې د آسیا ، افریقا او لاتیني امریکا له

منابعو څخه لاسته را وړي دي او دا لړۍ لا همدا اسې په نوې بڼه روانه ده .

د امریکا جمهور رئیس بوش یو وخت ویلي وه چي «د امریکا د ژوند پر شېوې باندي چاته د چنې وهلو حق نه ورکول کیږي» یا دا چي د امریکا پخوانی بدنامه د دفاع وزیر ډونالډ رمسفیلډ د ټرور پر ضد د خپلي جګړي ماموریت په دې کې لیده چي نړۍ وال په دې خبره متقاعده کړي چي امریکا هوډ کړی دی پر خپلي امریکائي شېوې باندي و ژوند ته دوام ورکړي !

په دې نړۍ وال کلي کې مېشته انسانان د امریکایي ژوند د شېوې د مدافعانو څخه دا پوښتنه کوي چي آیا د نړۍ نور محروم ساتل سوي ولسونه هم داحق لري چي د امریکایانو په شاني ژوند وکړي که یا ؟ که ئې نلري نو ولي ئې نلري او که ئې لري نو دغه او دې ته ورته سوالو ته څرنګه ځواب ورکوي :

د مځکي د سیاستو د انستیتیوټ (Earth Policy Institute) رئیس ښاغلی لیسټر براون (Lester Brown) نظر څرګندوي چي تر کال ۲۰۴۰ پوري به په چین کي د سړي پر سر کلنی عاید د امریکا نه واوړي ، که چیري په چین کي د غوښو همدا شاني د اصراف مصرف لکه همدا اوس چي په امریکا کي روان دی تر سره سي نو یوازي د نړۍ په سلو کي اتیاغوښي باید د چین په اختیار کي ولوېږي ! هند خو لا پر خپل ځای پرېږده چي د دې هیواد اقتصادی پیاوړتیا به تر ۲۰۵۰ پوري د امریکا و کچي ته ورسیږي.




په همدې ترتیب د ورلډ واچ انستیتیوټ (World watch Institute) وایي چي «همدا اوس په امریکا کي د سړي پر سر د حبوباتو او غلو دانو مصرف د چین او هند په پرتله پنځه ځله زیات دی. نو که قرار دا وي چي هر چینائي یا هر هندی لکه یو امریکائي غوندي مصرف وکړي نو ددې کار د پاره به د مځکي و دوو کورو ته ضرورت وي ! » او دې ته ورته نوري ډېري داسي پوښتني.

په دې توګه ددې کلي و دېرشو تنو ته ، ددې کلي د ټولي هستۍ د غضبولو لپاره ټول امکانات په کار لوېدلي دي خو ددې کلي د اویا تنو د هستیو د غلا کولو او د هغوی د خښم او پاڅېدلو د مخنیوی لپاره

وسله والي جګړې او مسابقې را شروع سوي او د مرګ او وژنو بازار ته ئې په سپينه ورځ لمن وهلې ده .سره ددې چې د فقر بنيادي چاره د انفرادي اشخاصو اويا د انجيو ګانو په هلو ځلو سره له مينځه نه ځي ،زياتره دداسي هڅو تر شا نور لاسونه هم کار کوي خو په دې لاره کې هرازي انساني او بشري هڅي دبېوزلو انسانانو ددوعاوو او د هغوی د ممنونيت سره مخامخ کيږي . نن به ښائې يو ګڼ شمېر محتاجه انسانان په خيرات سره ماړه سي خو په دغه غميزي کې زموږ د هيواد په څير ګڼ شمېر نور هيوادونه چې د نفوسو د نيمائې زيات انسانان ئې د فقر او لوږې څخه سرټکوي نو بيا هم په لوږه کې شپې سباکوي، د فقر له مينځه وړل بنيادي او ټولنيز حل غواړي . پر دې واقعيت باندې د ټولو رايه يوه ده چې په دغه موجوده نړۍ وال سيسټم کې چې امريکا ئې غواړي هغه جهاني کړي نو شتمن لا نور هم شتمن کيږي او غريب نور هم د فقر او مرګ و کندې ته شوه کيږي. تر څو چې دفقير او شتمن تر مينځ دغه او سنۍ ظالمانه او غير عادلانه واټن موجود وي او له مينځه نه وي تللی،دشتون عوامل ئې هم نه وي محوه سوي فقر به همدا شاني موجود وي او د هري ورځي په تېرېدو سره به لا نور هم پراخيږي او د نړۍ وال ثبات او کړکېچ ته به نور هم جدي ګواښونه پېښوي ، د انسانانو غميزي به نور هم زياتيږي.

که دا نړۍ يو کلی وای او په دې کلي کې يا په دې ښکلې نړۍ کې د انسانانو په ګټه يو نړۍ وال عادلانه ټولنيز سيسټم وای، د پردو پر هستيو باندې د امريکا په سرغنه توب د بډايو هيوادو سرشکونی نه وای،جګړه نه وای، دحرص ،وحشت او جنايت ځای و قناعت ، عدالت او اخوت ته پرې ايښی وای د فقير او شتمن تر مينځ دغه اوسنۍ ظالمانه واټن ايسته سوی وای، د هيوادو په کچه چور ، غلا او اشغالګري نه وای، اخلاقي انحطاط او د هيروينو قاچاقبري نړۍ واله بڼه نه وای غوره کړې، هغه وخت به د فقر او لوږې د غربت دغه شومه سايه به هم اصلاً ددې نړۍ او ددې کلي نه کوچېدلې اود جګړو او دوسلو دسياليو بازار به هم خپل ټغر ټول کړی وای.

کله چې په نړۍ کې دري ميليارده انسانان د هغې جملې څخه يو ميليارډ کوچنيان په شديد فقر کې ژوند کوي او ټولنيز عدالت ددوی د ژوند نه کوچېدلی وي آيا کېدلای سي داسي يو کلی جوړ سي چې نن ورته لويه هنګامه جوړه سوېده ؟ آيا کېدلای سي په وږي نس او د بمباريو په خوړوسکو او د جګړو په سرو لمبو او خرابيو کې د متمدني نړۍ کاذب ارزشونه زموږ دهيواد غوندي پر فقيرو هيوادو باندي و منل سي؟ ايا کېدلای سي د د وحشت او بربريت په دغه اوسنۍ فضا کې په دې کلي کې د عدل او انصاف حکم پلی او فقر او لوږه دې له مينځه ولاړه سي ؟ آيا داسي څه به ممکنه وي ؟که نه وي نو ولې بايد نه وي او څوک او کوم هيوادونه دداسي عدل د تأمين په لاره کې مسؤله دی او خنډونه پېښوي ؟

نن د نړۍ اکثريت خلک او هيوادونه دداسي يو نړۍ وال عادلانه بشري کلي غوښتنه کوي چې په هغه کې و ټولو انسانانو ته خواړه وي،سوله وي،عدالت وي ،راستي وي، کاروي، مصؤنيت وي، انسانيت او وهغه ته درناوی وي . که نن په رشتيا سره غوښتل کيږي چې په نړۍ واله کچه د فقر عوامل له مينځه

ولاړ سي نو بايد همداسي په نړۍ واله کچه بايد ددغه اوسني نړۍ وال نظام په بنيادو کې عادلانه بدلون راوستل سي. د خدای بنده ګان په هر دين او مذهب چې وي د سولې، ټولنيز عدالت، انصاف ،دوستي او راستي په موجوديت کې کولای سي يو اوبل ته واقعي خدمت وکړي او دداسي کلي و جوړېدو ته ځانونه هم وهڅوي او هم ئې و نځوي.

د اکتوبر ۱۷ مه ۲۰۰۷

* شينتو **Shinto** د جاپان ترټولو پخوانۍ دين او ددې هيواد د دووعمدوو دينو ( بودايي او شينتو ) څخه يو دی . دغه دين د اماتراسو(**Amaterasu**) په نامه ځان دلمر الهه او د خپلې اجدادي مځکې ساتونکې بولي ، د جاپان سلطنتي خاندان هم په خپله کورنۍ کې ددغه څه تجسم ويني.


اخځونه:

دغه ليکنه او په هغه کې د ياد سوی ارقامو يادونه په لندن کې دلاندي کتاب د مجموعې:

**1**- Smith, D.J., & Sh.Armstrong, If the World Were a Village (London 2003-2005)

او د غه منابعو څخه استفاده سوېده:

2 - د ملګرو ملتو د کرهني او غذا سازمان(Food and Agriculture Organization of the United Nations-FAO) ،

3- /http://www.un.org/depts/dhl/poverty

4 - د يونسيف UNICEF (United Nations Children's Emergency Fund) پاڼه،

5 - د World Watch Institute د ۲۰۰۷ کال ګزارش ،

6- Why the Western Economic Model will not work for the world – Earth Policy Institute – March/09/2005

7 - د U.S. Food Waste and Hunger Exist Side by Side-IPS Sept./03/2004

8– د استرليا دايج **(The Age)**، د بي بي سي (BBC) او د آلمان ږغ (DW) خبري پاڼي.

**http://borgenproject.org/Pictures.html**
**/http://www.flickr.com/photos/almaz/24856377**
**http://ssafuniii.org/images/Bor%20South%20Famine.jpg**